# د افغانستان ۲۰۰۰ کلنۍ پخوانۍ ژبه
# کوشاني یا تخاري

د پښتو سره د دغي ژبي اړیکي

د ۱۹۵۷ م کال د می په اوومه د فرانسې د لرغون پوهانو ډلي د بغلان د سره کوتل په خرابو کي یو ډبرلیك (سنګ نبشته) تر خاورو لاندي وموند چي پر یوه لویه ډبره په یوناني شکسته خط ۲۵ لیکي په ۹۴۷ حروفو لیکلی سوی دی. د سره کوتل خرابې د یوه قدیم معبد آثار دي چي د لرغون پوهانو په عقیده دلته یوه لویه آتشکده وه، او د مقدس اور آثار او نغري ټول په حفریاتو کي ښکاره سول، او دغه پوهان وایي چي د کوشاني عصر دغه اورتون (آتشکده) د ۲۴۰ م په حدودو کي د یوې عمدي آتش سوزۍ په اثر ورانه سوې ده.

په دې حفریاتو او پلټنو کي نوري کوچنۍ نوشتې هم پیدا سوي دي، مګر تر ټولو مهمه کتیبه دغه ۲۵ سطري نوشته ده، چي د فرانسې پوهاند M . MARIQC او انګلیسي ژبوهاند M .B . HENNING یې د لوستلو کوښښ کړی دی، او د فرانسې بل مشهور ژب پوهاند EMILE BENVENISTE هم د ژورنال اسیاتك ۱۹٦۱ م په یوه نشریه کي د دې ډبرلیك پر دوو نورو نسخو باندي په تفصیل بحث کړی دی.

درې نسخې :

د بغلان د سره کوتل د آتشکدې په خرابو کي چي علمي حفریات جاري سول تر خاورو لاندي یوه لویه ډبره پیدا سوه، چي ۲۵ لیکي ده، او اوس د کابل په موزیم کي پرته ده.دا لویه کتیبه ډېره خوشخطه او لیك یې ښه واضح او د ویلو وړ دی، چي مخ یې ۱۱۷×۱۳۲ سانتی دی، او خط ته یې هیڅ تاوان نه دی رسېدلی، دغه لویه ډبره زه د کتیبې لومړۍ نسخه بولم.

کله چي د حفریاتو ډلي د آتشکدې مخکه ټوله تر علمي پلټنو لاندي وکینله، نو هلته یوه اوبه څا راپیدا سوه، چي په ډبرو پخه ودانه سوې وه، په دغو ډبرو کي چي په څا کي د تعمیري موادو په ډول کار سوي وې، پر ځینو ټوټو ډبرو باندي هم یو څه نوشتې په هغه یوناني رسم الخط ښکاره سوې، دا ټولي د ډبرو ټوټې (۵۳) دي.

عجبه خبره دا ده چي پوهانو دغه د ډبرو مختلفي ټوټې تر علمي کتني لاندي سره ترتیب کړې، نو د هغې لومړنۍ کتیبې دوې نوري نسخې هم لاس ته راغلي، په دې تفصیل :

دوهمه نسخه :

پر ۲۱ ټوټو ډبرو باندي په (۲۷) لیکو کي کیندلې سوې ده، خو خط یې تر اولي نسخې خراب دی، د ډبرو ځیني برخي یې ماتي سوي او حروف یې الوتي دي، دا نسخه په املا کي هم ډېر لږ له لومړۍ نسخې سره فرق لري.

دریمه نسخه :

دو دېرش ټوټې ډبري او ۲۷ سطره ده، ډېري برخي یې ماتي او الوتي دي خط یې هم ډېر بد او بې تناسبه دی، دکلماتو املا یې هم لږ څه فرق لري، حروف یې ځیني غټ او ځیني واړه دي. ښاغلي استاد بنوینسټ دغه درې نسخې سره مقابله کړي دي، او د ځینو کلماتو د املا اختلاف یې هم ښوولی دی. داسي ګومان کیږي، چي د آتشکدې ترمیم کوونکو په لومړنۍ پلا د کتیبې دریمه او دوهمه نسخه پر مختلفو ډبرو باندي په ټوټو کي کښلي وي، مګر وروسته یې لیدلي دي چي د دغو نسخو خط هم ښه نه دی، د کلماتو املا یې هم نقص لري او د ډبرو پر

مختلفو ټوټو باندي هم يوه کتيبه محفوظه نه پاتيږي، نو يې په دريمه پلا عين هغه مطالب په صحيحه املا او ښه خط په ډېره اعتنا پر يوه لويه ډبره وليکل او د دوهمي او دريمي نسخې ډبري يې له نورو تعميري موادو سره په ځا کي د سنګ کارۍ په ضمن کي کار کړې، چي اوس موږ ته درې سره نسخې د علمي پلټنو په برکت لاس ته راغلي دي.

دکتيبې د ليك وخت :

دکوشانيانو ډيري نوشتي د پښتونستان او هند په قديمو ځايو کي پيدا سوي دي، چي پر ټولو د لوی کوشاني پاچا کنيشکا تر جلوس وروسته کلونه د تاريخ په ډول کښل سوي دي او لرغون پوهان متفق دي، چي د کنيشکا د جلوس سنه يې د تاريخ مبداء ده، او له دې کاله يې د سنواتو حساب کاوه. دکنيشکا د جلوس پر اصلي کال باندي د پوهانو اختلاف دی او د ښاغلي کهزاد په قول د ده د جلوس کال (۱۲۰ م) دی چي د شاهۍ زمانه يې له (۱۲۰تر ۱٦۰م) پوري وه[۱].

ستېن کونو STEN – KONO ايتالوی پوهاند پر دغه موضوع باندي يوه مقاله په اکتااريانتاليا مجله (ج ٦ ص ۹۳) کي ليکلې ده. چي د کنيشکا د شاهۍ زمانه له (۱۲۵ تر ۱۵۲ م) پوري بولي، او دغه قول کريستن سن غوندي محقق پوهاند هم رانقلوي[۲].

د ښاغلي کهزاد تر قول دغه د ستېن کونو خبره تحقيق ته نژدې ده، ځکه په هند کي د کنيشکا يوه کتيبه سته، چي تاريخ يې د ده د جلوس ۲۳ کال او د دوبي اوله مياشت ده چي د (۱۵۱م) سره مطابقت لري.

دغسي يوه بله نوشته دکنيشکا د جانشين واسشکا د زمانې ده، چي تاريخ يې ۲٤ کال دوبی (= ۱۵۲ م) دی. نو له دې اسنادو څخه ښکاري چي کنيشکا بايد د (۱۵۱ _ ۱۵۲م) د دوبي تر منځ مړ وي[۳].

علاوه پر دغه ستېن کونو د چيني اسنادو (هو _ هان _ شو) په حواله ليکي چي کنيشکا تر ۱۵۲ م دمخه ختن ته تللی او هم په دغه کال مړ سوی يا وژل سوی دی[٤]. نو دغه عالم د کنيشکا د تاريخي عهد مبداء (۱۲۸/۱۲۹م) کال تعيين کوي، چي حقيقت ته نژدې ښکاري[٥].

زموږ د بغلان د سره کوتل پر کتيبه تاريخ داسي ليکل سوی دی :

"پدئی ايوګ او دوهيرس خشون نيسان مامال"

يعنی : "د سلطنت په يودېرشم کال، د نيسان ماه مهال"

له دې تاريخه داسي ښکاري چي دغه کتيبه به اته کاله دکنيشکا تر مرګ وروسته په (۱٦۰ م) کال د ده د اخلافو و اسشکا يا هوويشکا په وخت کي ليکلې سوې وي.

د اوسنۍ فارسي مور ۲۰۰۰ کاله دمخه :

د اروپا خاتيځ پوهانو لکه هيننګ او ماريك او بنوينسټ چي دغه کتيبه يې مطالعه کړې ده، دوی يې ژبه باختري بللې ده. مګر د البيروني و البشاري مقدسي په قول د بلخ او بدخشان تر منځ چي کومه ژبه ويله کېده، هغه يې تخاري بلله، او د بلخ ژبې ته نژدې وه[٦].

ځکه چي د دې کتيبې په کوشاني عصر او دربار کي ويله کېده، نو که دغه ژبه کوشاني وبولو، يو واقعي نوم به وي.

تر اوسه موږ ته داسي کوم سند لاس ته نه دی راغلی چي د اسلام دمخه زمانې فارسي شکل راوښيي، خو د بغلان له دغي کتيبې څخه معلومه سوه چي د ميلاد په اول او دوهم قرن کي د افغانستان دکوشانيانو تحريري او ادبي ژبه د دغي اوسنۍ فارسي او دري ژبې مور وه او رسم الخط يې هم يونانی وو. دغه کوشاني ژبه له قديمي

دري او اوسنۍ فارسي سره مستقيماً د موروالي نسبت لري، خو د پښتو سره هم اشتراك او نږدېوالی لري.

ما ځو مياشتي مخکي د لويکانو په رساله کي ليکلي وه، چي دغه ژبه به يا پښتو وي يا به پښتو ته ډېره نژدې وي. مګر اوس د بغلان د کتيبې تر تحليلي مطالعې وروسته دې نتيجې ته ورسېدم، چي د کوشاني دورې ژبه تقريباً دوه زره کاله مخکي او د ميلاد په اوله او دوهمه پېړۍ کي اصلاً د فارسي مور ده، او د پښتو سره هم ډېره نژدې ژبه ده. (ښايي لکه خور)

ممکنه ده چي لکه اوس په کوشاني عصر کي يعني دوه زره کاله دمخه هم په افغانستان کي دوې ژبي وې يوه ژبه چي د اوسنۍ فارسي او دري ژبي مور وه او د بغلان دغه کتيبه پرې ليکلې سوې ده. او بله پښتو چي پښتنو به ويله، ښايي چي دغي کوشاني ژبي د مجاورت او نژدېوالي له جهته پر پښتو هم اثر کړی وي، يا دا چي لکه اوسنۍ افغاني فارسي د پښتو اثرونه يې قبول کړي وي.

د قديمي نظريې تزلزل :

تر دې وروسته کلو پوري د پوهانو مسلمه عقيده دا وه چي د عربو تر حملې وروسته ورو ورو پهلوي ژبي په تدريج سره تحول وموند، او دغه اوسنۍ فارسي ځني پيدا سو(٧).

مګر د بغلان د کتيبې پيدا کېدو دا خبره ثابته کړه چي د پهلوي ژبي د وجود او رسميت او ترقۍ په وخت کي چي په غربي ايران او ماوراء النهر کي تر تورفانه شمالي او جنوبي پهلوي خپره وه. دلته په تخارستان کي يوه بله کوشاني ژبه ژوندۍ وه چي د پهلوي څخه نه وه پيدا سوې، بلکي د پهلوي سره څنګ په څنګ ژوندۍ او د کوشاني دربار ادبي او تحريري ژبه وه چي دا دی يوه نوشته يې په ۲۵ سطره او (١٦٠) کلمو کي موږ ته د بغلان د آتشکدې څخه لاس ته راغله. دا ژبه پهلوي نه ده، بلکي د دري فارسي مور ده، او د پښتو به خور وي، ځکه ځيني کلمات کټ مټ پښتو او د ځينو افعالو ريښې هم له پښتو سره مشترکي دي، او له سندي او پهلوي او اوستا سره هم خپلوي لري.

د کوشاني ژبي الفبا :

د بغلان د کتيبې په ۲۵ ليکو کي د کوشاني ژبي دغه حروف استعمال سوي دي. ښايي چي يو څو نور حروف به يې هم لرل، چي په دغه نوشته کي به يې د استعمال موقع نه وي راغلې. د دغو حروفو د يوناني شکسته رسم الخط اشکال دا دي :

۱. الف - آ: ᗅ = A  چي د زورکار هم ورکوي.
۲. ب - ᗷ = B
۳. پ - P=Π
٤. ف - F=Φ
٥. ت - T=Ƴ
٦. تهـ (ث) TH=θ تقریباً د پښتو (څ).
۷. خ - KH=X په فارسي کي کله په (ک) اوښتې ده.
۸. ر - D=Δ دکوشاني ژبي د ځینو کلماتو په آخرکي که پسله حرف علت څخه و نو په فارسي او پښتو کي حذف شوي، یا په خفي (هـ) اوښتي دي.
۹. ر - R=P
۱۰. ز - ƻ = Z په فارسي کي کله (ژ) اوښتې ده.
۱۱. س- S=C په فارسي که کله په ز-چ او په پښتو کي په (څ یا ز) اوښتي دي.
۱۲. ش- SH=þ دا شکل په یوناني الفبا کي نه و، دکوشاني لپاره یې جوړ کړي دي.
۱۳. ښ- SHKH=þx دا خاص صوت یې په دوو حرفو (ش+خ) اداکړي دي او ښکاره ده، چه دکندهار د اوسني اداء سره یې برابر وایه او یوازي د (خ=x) آواز نه و، بلکه د (ش=þ) صوت هم ورسره ګډ و. ځکه که یوازي د (خ) صوت واي، نو به یې په x سره لیکلي واي. دغه صوت په اوستا کي هم و.
۱٤. ک- K = κ
۱٥. ګ- G=Γ په اتصامي او تضحیمي حال کي په فارسي او پښتو کي په (ک) اوښتي دي.
۱٦. نګ- NG=ΓΓ دکوشاني ځینو کلمو په پاي کي و.
۱۷. ل- L= ⊦ د فارسي او پښتو په ځینو کلموکي په (و-ر) اوښتي دي.
۱۸. م- ᴍ =M په مفرد ډول د ملکیت ضمیر و.
۱۹. ن- ⊓ =N
۲۰. و- O=ω واو مضموم معروف غالباً دکلماتو په ابتدا کي.
۲۱. و- o=o خفیف واو.
۲۲. هـ - Ƴ =H دا شکل په یوناني کي نه و، په کوشاني کي د (هـ=H) لپاره دي.
۲۳. ی- Ƚ = E درنه معروفه یا
۲٤. ی- Ē= h سپکه یا.
زور = A
پیښ o=o
زیر i=I دا حرف کله د (ی) پر ځای هم راځي، اما که مفرد وي، اودکوشاني ژبي تر فاعکي (o) وروسته راشي، نو د اضافت علامت دي چي دغه علامت په فارسي رسم الخط کي هم کله په (ی) نوشته کیده.

فاصله : د دووکلمو تر منځ ضرور یوه فاصله لیکله سوې ده په دې شکل (ο) له دې الفباء څخه ښکاري چي کوشاني ژبه له اوستا او سندي
او پهلوي سره خپلوي لري او له پښتو سره هم ځیني مشترك اصوات لري لکه (ښ ـ ځ).

مګر په صوتي لحاظ د پښتو اوکوشاني فرق دا دی، چي پښتو ځیني شرقي ږغونه (هندي) هم لري لکه (ړ ـ ډ ـ ڼ) خو په کوشاني کي ظاهراً دغه شرقي اصوات نسته، نو موږ پښتو د شرقي او غربي آریایي ژبو جامعه ګڼو، اما کوشاني یوازي په غربي ډله کي راتلای سي[٨].

د پښتو اوکوشاني ژبي اړیکي :

ما دمخه وویل : چي کوشاني ژبه د دري ژبي مور ده، یعني دوه زره کاله دمخه دغه ژبه د افغانستان په شمالي برخو او غرو او دروکي وه او له هم دې ژبي څخه دري او فارسي د افغانستان په سیموکي زیږېدلې ده.

د دې خبري دلیل دا دی چي د میلاد په لومړیو پېړیوکي په اوسني اېران کي فارسي ژبه نه وه بلکي پهلوي وه. اما په همدغه عصر کي په افغانستان کي دغه کوشاني ژبه موجوده وه چي له همدې ژبي څخه د اسلام د حلول په شاوخوا کي په افغانستان کي دري ژبه زیږېدلې وه اوکوم وخت چي د اسلام څپو او غربي تسلط په اېران کي پهلوي ژبي ته شکست ورکړ، نو ورو ورو دري ژبه د افغانستان له سیمو څخه په اوسني اېران کي خپره سوه، او د فارسي په نامه د ټول اېران ملي ژبه سوه. نوکه موږ وغواړو چي د اوسنۍ فارسي سلف ومومو، هغه په افغانستان کي د کوشاني ژبي په شکل کي موندلای سو نه په اېران کي[٩].

د بغلان دغه کتیبه موږ ته د قدیمي فارسي کره وړه راښیي، او دا ثابتوي چي په هغه زمانه کي دغي قدیمي فارسي (کوشاني یا تخاري) د پښتو سره ټینګ اړیکی لرل، او په افغانستان کي لکه اوس دغه قدیمه فارسي او پښتو څنګ پر څنګ موجودي ژبي وې.

د پښتو سره د کوشاني اړیکي طبیعي هم دي ځکه په یوه محیط کي دوې ژبي ویلي کیږي، نو هرو مرو یو پر بل باندي اثر کوي. د بغلان په کتیبه کي ځیني کلمات داسي هم سته چي د هغو ریښې پښتو ته رسیږي. نو ممکنه ده چي دغه کلمات پښتو له کوشاني ژبي څخه اخیستي وي یا کوشاني ته له پښتو څخه ورغلي وي.

دلته زه د پښتو اوکوشاني ځیني نزدېکیو ته اشارکوم :

حالت :

د بغلان په کتیبه کي ځیني کلمات سته چي په آخر کې ږغیز (صایت) توری راغلی دی، دغسي کلمات لکه پښتو او سانسکریت د حالت په تغیر اوښتي دي چي دغه خاصیت په فارسي کي نسته.

مثلاً : په دې کتیبه کي د کنیشکه = کنیشکا نوم په مختلفو حالتوکي داسي دی :

| | |
|---|---|
| اضافي او توصیفي حالت | : کنیشکو |
| فاعلي حالت | : کنشکی |
| یو بل نوم | : نوکو نزوك |
| په فاعلي حالت کي | : نوکو نزوك |
| په موصوفي حالت کي | : نوکونزیك |

ترکیب توصیفي :

لکه پښتو په کوشاني کي هم اول صفت بیا موصوف راغلی دي مثلاً : بګ شاکنیشکی (شاه عظیم کنیشکا)

مشت خرګومن (خرمن بزرګ)

بگ پوهرلویخ (لویك فغفور)

په ساکن ابتداء :

په فارسي کي اوس په ساکن ابتداء نه کیږي، مگر په کوشاني ژبه کي وه، او پښتو دا خاصیت تر اوسه ساتلی دی مثلاً په دغه کتیبه کي (ستاد = ایستاد) فرومان (د اول حرف په سکون = فرمان) سته.

د کلماتو اشتراك :

په دغه کتیبه کي ډېر اسماء او افعال له پښتو سره مشترك دي لکه : انند (فیروز و متمتع) بگ (عظیم) تادی او کید (عجلت کرده شد) نیست او خوت (نیست برامد) اېر (لهجه ئی از اور یعنی آتش) الوښال ( = اروانښاد یعني شاد روان او مرحوم) مال (وقت) ایی (یو = یك) وست ( له پښتو ویستل څخه = بر آورد) خودی (لهجه ئی ازکلمهٔ خدای) استیل (ستر یعنی رئیس) او دوهیرس ( دېرش = سی امندر (معبد).

په هر صورت دغه کتیبه د افغانستان په ژب پوهنه کي هم د فارسي هم د پښتو لپاره ډېره مهمه ده او ما د دغي کتیبې پر تحلیل او تاریخي اهمیت باندي یو کتاب گوتې لیکلی دی، ښایي چي طبع سي او دغه مباحث په ډېر تفصیل او تاریخي او لساني اسنادو سره هلته راغلي دي(۱۰).

## لمن لیکونه

۱. تارخ افغانستان ۲/۲۲۲.
۲. مزدا پرستی در ایران قدیم ص ۱۱٤.
۳. د ستړین کونو خروشتی کتیبې ص ۱٦۸.
٤. دغه کتاب ص ۱٦۹.
۵. دغه کتاب ص ۱٦۵.
٦. آثار الباقیه ۲۲۲ _ احسن التقاسیم ۳۳۵.
۷. وگورئ د اقبال تاریخ ادبي _ مجله دانشکده ۱/۱۰ _ د دکتور شفق تاریخ ادبیات ۳۳/ په مجلهٔ یادگارکي د تقي زاده مقاله ٦/۹ د براون تاریخ ادبی ۱/۱۲۹.
۸. زما په فکر د غربي او شرقي ژبو فاصل حد باید اباسین وي، اما د غربي خوا فاصله کرښه د هلمند مجرا گڼلای سوای، د هلمند او اباسین تر منځ باید یو آیزوگلاس فرض کو چي د شرقي او غربي اصواتو یوه جامعه سیمه ده، او پښتو په دغه سیمه کي د شرقي او غربي اصواتو او لغاتو یوه جامعه نمونه ده.
۹. په پنځم هجري قرن کي ناصر خسرو قبادیاني لیکي چي قطران تبریزي شاعر به له ده څخه د فارسي شعر ځیني مشکلات زده کول، نو داسي ښکاري چي فارسي هلته نوې ورغلې وه. (سفر نامه ص ۸).
۱۰. وږمه مجله، ۱۳٤۱ لمریز کال، ۵ مه او ٦ مه گڼه، ۵۳ او ٦۳ مخونه.